رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ

# غوثِ پاک

# او د اُمَّت اِصلاح

**26-OCTOBER-2023**



د اجتماعِ غوثیه بیان

(for Islamic Brothers)

په 26 اکتوبر کال 2023ء د اجتماعِ غوثيه (د 11 ربيع الآخر 1445ھ د لوئے يولسم شريف) بيان

# غوثِ پاک او د اُمَّت اِصلاح

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... ځويه! ستا اودس نه وو
- ...د مؤمن د فراست کمال
- ... د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مختصر تعارُف
- ... د تَوَکُّل زياتولو روحاني وظيفه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

# د دُرُودِ پاک فضیلت

یو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف فرما وو، صحابۀ کرام عَلیھِمُ الرِّضوَان هم حاضر وو، د نُور محفل راجوړ شوے وو، په دې کښې یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مَا اَقۡرَبُ الۡاَعۡمَالِ اِلَی اللّٰہِ؟ الله پاک ته ډیر نزدې کیدو والا عمل کوم یو دے؟ اوئې فرمائیل: صِدۡقُ الۡحَدِیۡثِ وَ اَدَاءُ الۡاَمَانَةِ ربنتیا خبره کول او امانت ادا کول. عرض ئې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زِدۡنَا یعنې نور اعمال ارشاد اوفرمائې! اوئې فرمائیل: صَلَاةُ اللَّیۡلِ وَ صَوۡمُ الۡهَوَاجِرِ یعنې د شپې لمُونځ کول او په ګرمئ کښې روژې نیول (الله پاک ته نزدې کیدو والا اعمال دي). صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بیا عرض اوکړو: زِدۡنَا یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! نور ارشاد اوفرمائې! اوئې فرمائیل: کَثۡرَةُ الذِّکۡرِ د الله پاک زیات ذِکر کول هم الله پاک ته نزدې کیدونکے عمل دے، نور ئې اوفرمائیل: وَالصَّلَاةُ عَلَیَّ تَنۡفِی الۡفَقۡرَ او په ما باندې درود شریف

لوستل (اللّٰه پاک ته نزدې کولو والا عمل هم دے او ورسره ورسره) لوړه تنده هم لرې کوي.[1]

| | |
|---|---|
| دُور ہو جائیں دُنیا کے رنج و اَلَم | ہو عطا اپنا غم دیجئے چَشمِ نم |
| مال و دولت کی کثرت کا طالب نہیں | تم پہ ہر دم کروڑوں درود وسلام[2] |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې **حدیثِ پاک** کښې د 6 اعمالو ذِکر اوشو **(1)** رښتیا وئیل **(2)** امانت ادا کول **(3)** د شپې لمُونځ ادا کول **(4)** په ګرمئ کښې روژې نیول **(5)** د اللّٰه پاک ډېر زیات ذِکر کول او **(6)** په رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک لوستل، دا 6 اعمال اللّٰه پاک ته نزدې کولو والا دي او سُبْحٰنَ اللّٰه! د دُرُودِ پاک فضیلت څه بیان شو؟ **دا هغه ښکلے ښکلے عمل دے چې اللّٰه پاک ته نزدې کوي هم او د لوږې تندې، غریبئ او تنګ لاسئ او بے روزګارئ نه هم نجات ورکوي.**

نن سبا ګراني هم ښه په زور کښې ده، غریبانان څه اوس خو مالداره هم پریشانه دي، هیڅ خبره نه ده، مشکلات په انسانانو باندې راځي، پریشانه کیدل پریږدئ! په کوڅو بازارونو کښې، د دوستانو خپلوانو په بیټک کښې د ګرانئ فریاد پریږدئ! دُرُودِ پاک لولئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیۡم! ګناهونه به هم معاف کیږي، زړه به هم پاك کیږي، د اللّٰه پاک قرب به هم حاصلیږي، آخرت به هم ښه کیږي او اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیۡم! د غریبئ، تنګ لاسئ، بے روزګارئ نه به نجات هم نصیب کیږي.

---

[1]... مسالک الحنفا، المطلب الخامس، الفصل الثانی فی فوائد الصلاۃ علی النبی...الخ، صفحه:178.
[2]... وسائل بخشش، صفحه:604.



www.dawateislami.net

اے دِینِ حق کے رَہبر تم پر سلام ہر دَم

میرے شفیعِ محشر تم پر سلام ہر دَم

دُنیا و آخرت میں جب میں رہوں سلامت

پیارے پڑھوں نہ کیونکر تم پر سلام ہر دَم[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيّات د اعمالونو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نیتونه اوکړو! مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باأدبه کښېنم ❀ ښه په توجُّه سره به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې د یادولو، بچپله د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش به کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:168 ملتقطًا.

[2]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1.



www.dawateislami.net

زمونږه پیرانِ پیر، پیر دستګیر حُضور غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډیر د اوچتې مرتبې ولیٔ کامل دے، د هغوئي تعلیمات څه دي؟ هغوئي د دین خدمت په کوم انداز کښې اوکړو؟ هغوئي به څنګه د خلقو د ظاهر او باطن اصلاح فرمائیله؟ نن به په دې باره کښې د څه خبرو او د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د واقعاتو وغیره اوریدلو سعادت حاصلوو، د دې نه مخکښې راځئ! د 11 شریف په باره کښې یوه ایمان تازه کوونکې واقعه اورو:

## د یولسمې په محفل کښې د شیرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشریف راوړل

د برصغیر (پاک و هند) ډیر مشهور، او معتبر شخصیت، د خپل وخت کامل ولي، باعمله عالم حضرت شاه ولِـیُّ الله محدث دهلوي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکي: حضرت مرزا مظهر جانِ جاناں رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ (څوک چې ډیر کامل ولي دے، هغوئي) فرمائي: یوه ورځ زه اوده ووم، ما خوب اولیدو، یوه صحرا ده، په هغې کښې یوه غټه شان چبوتره ده او ډیر زیات اولیائے کرام په هغه چبوتره باندې د مراقبے په حالت کښې (یعني د سترګو پټولو سره، د الله پاک په یاد کښې مشغول) ناست دي، په دې حلقه کښې حضرت خواجه نقشبند او حضرت خواجه جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم تشریف فرما دي. د حضرت خواجه جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هم عجیبه کیفیت وو، هغوئي د هر څیز نه ناخبره د رَبِّ کریم په یاد کښې ورک وو. ما د چا نه پوښتنه اوکړه: دا ټول اولیائے کرام دلته ولې راجمع دي؟ اووئیلے شول: د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت علِـیُّ المُرتضیٰ، شیر خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشریف



www.dawateislami.net

راوړي، ټول د هغوئي د هرکلي د پاره حاضر دي. لږ وخت پس حضرت علِـيُّ المُرتضیٰ، شیر خدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تشریف راوړلو، د هغوئي سره ښوک وو، هغوئي د هغه لاس ډیر په محبت نیولے وو، په پوښتنه کولو اووئیلے شول: د حضرت علِـيُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره چې کوم شخصیت دے، دا ښوک بل ښوک نه دے بلکه خَیْرُ التَّابِعِین (یعنې په تابعینو کښې اوچتې مرتبے والا، عظیم عاشق رسول) حضرت اُویس قرني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے.

حضرت مرزا مظهر جانِ جاناں رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: په هغه ځائے کښې یوه ښکلې نوراني کمره وه، حضرت علِـيُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او حضرت اُویس قرني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغه کمرې ته تشریف یوړلو. زما په پوښتنه اووئیلے شول: نن د حضور غوث الثقلین (شیخ عبدالقادر جیلاني) رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عرس مبارک یعنې لوئے یولسم شریف دے، په دې محفل کښې د شرکت کولو د پاره حضرت علِـيُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او حضرت اُویس قرني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تشریف راوړے دے.[1]

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب!   صَلَّی اللہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آیا اَوْلیاءُ الله د وصال نه پس چرته راتللے هم شي؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نن اَلْحَمْدُ لِلّٰه! لوئے یولسم شریف (یعنې د ربیع الثانی 11 شپه) ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په دې شپه باندې په ټوله دُنیا کښې د حُضور غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ذکر محفلونه قائمیږي، د غوثِ پاک عاشقان ښه په درناوي یولسم شریف

---

[1]... کلماتِ طیبات، صفحه:77.



www.dawateislami.net

لمَانځي، د غوثِ پاک ذکر کوي او ایمان تازه کوي او د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ایصالِ ثواب د پاره د لنګر وغیره اهتمام کوي او ښه ایصالِ ثواب کوي او د دې برکتونه حاصلوي او اوګورئ! څومره د کرم خبره ده، د اوچتو مرتبو والا دوو اولیائے کرامو حضرت شاه ولیُّ الله مُحَدِّث دهلوي او حضرت مرزا مظهر جانِ جانان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه م ګواهي ورکړه چې د یولسم شریف په محفل کښې لوئے لوئے اولیائے کرامو او شهنشاهِ وِلایت حضرت علِیُّ المُرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او د هغوئي سره عظیم عاشقِ رسول حضرت اویس قرني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم تشریف راوړلو...!! دا ضروري نه چې د یولسم شریف په هر محفل کښې دا حضرات تشریف راوړي، البته که اوغوړي نو کرم هم فرمائي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** مونږ له هم د یولسم شریف اهتمام لازمي کول دي، یولسم شریف څه دے؟ ایصالِ ثواب دے او ایصالِ ثواب کول د قرآن او حدیث نه ثابت دي. صحابئ رسول حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما په بارګاه رسالت کښې عرض اوکړو: مونږ د خپلو وفات شوو د پاره دعاګانے او د هغوئي د طرف نه صدقه او خیرات وغیره کوو، آیا دا څیزونه هغوئي ته رسي؟ خوږ نبي، رسول هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه دا څیزونه وفات شوو ته رسي وَ يَفْرَحُوْنَ بِهٖ كَمَا يَفْرَحُ اَحَدُكُمْ بِالْهَدِيَّةِ یعني لکه څنګه چې تاسو په تحفه میلاویدو خوسحالیږئ، هم داسې وفات شوي خلق په دې (ایصالِ ثواب) خوشحالیږي.[1]

---

[1]…عمدة القاری، کتاب الجنائز، باب موت الفجاة البغتة، جلد:6، صفحه:305، تحت الحدیث:1388.



www.dawateislami.net

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ غوثِ اعظم! چې مونږ د یولسم شریف اهتمام اوکړو، د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ایصالِ ثواب اوکړو، په دې باندې به حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه زمونږ نه خوشحاله شي نو زمونږ نور څه پکار دي...!!

| | |
|---|---|
| رکھتا ہے جو غوثِ اعظم سے نیاز | ہوتا ہے خوش اس سے مولیٰ بے نیاز[1] |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: که په قمري حساب سره د هرې میاشتې په یولسمه شپه د ټاکلے شوو پیسو خواږه د مسلمان د دکان نه واخلي او په پابندئ سره د یولسم شریف فاتحه ورکوې نو په رزق کښې به ډیر برکت وي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! چرې به هم نه پریشانه کیږې. زه پخپله هم د دې پابندي کووم او د الله پاک په فضل سره د دې بے شمیره خوبیانې حاصلووم.[2]

| | |
|---|---|
| ہوں گی آساں ساری تیری مشکلیں | صدقِ دِل سے غوث کی کر دے نیاز |
| ہے فضیلت گیارہویں تاریخ میں | اس لئے افضل ہے اس میں دے نیاز |
| ساز و ساماں کی نہیں تخصیص کچھ | جو میسر ہو اسی پر دے نیاز[3] |

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د غوثِ پاک عاشق شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مرید هم دے او د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره بے حده محبت هم

---

[1]... قبالہ بخشش، صفحه:142.

[2]... اسلامی زندگی، صفحه:132 خلاصةً.

[3]... قبالہ بخشش، صفحه:142.



www.dawateislami.net

کوي، د هغوئي د ډيرو کلونو نه معمول دے چې د اسلامي مياشت په هره يولسمه شپه د يولسم شريف د نياز اهتمام فرمائي او د دې ترغيب هم ورکوي. د هغوئي خواهش دے چې هر عاشق رسول په پابندئ سره د هرې مياشتې د يولسم شريف اهتمام اوکړي. کاش! چې زمونږ د عاشقان غوث پاک د دې توفيق نصيب شي او هره مياشت په پابندئ سره د يولسم شريف د نياز ورکولو اهتمام اوکړو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

اے جمیلِ قادری ہشیار باش | عمر بھر چھوٹے نہ یہ تجھ سے نیاز[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شهنشاهِ بغداد، حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډيره مشهوره هستي ده ❁ د هغوئي نوم مبارک: عبد القادِر او کُنيت: ابو محمد دے ❁ مُحْيُ الدِّين (يعني دين ژوندے کوونکے) او غَوْثُ الثَّقَلين (يعني د پيريانو او د انسانانو غوث، مدد کوونکے) د هغوئي مشهور اَلقابات دي. حضورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 470 هجرئ کښې په جيلان کښې دُنيا ته تشريف راوړلو ❁ 91 کاله په دې دُنيا کښې تشريف فرما وو ❁ په 561 هجرئ کښې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دنيا نه

[1] ... قبالہ بخشش، صفحه:142.



www.dawateislami.net

پرده اوفرمائيله.

| | |
|---|---|
| واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدم اعلیٰ تیرا |
| سر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا | اولیا ملتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا[1] |

## يولسمې والا پير وئيلو وجه

خوږواو محترمو اسلامي ورونړو! دلته عام طور حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته يولسمې والا پير [د يولسمې ځوان] وئيلے شي، هسې هم د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ايصالِ ثواب محفلونو وغيره ته يولسم شريف وئيلے شي. د دې ډيرې وجې دي، مثلاً ❁ د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وصال ورځ 11 ربيع الآخر ده، ځکه هغوئي ته د يولسمې پير وئيلے شي ❁ د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سلسلهٔ نسب په 11 واسطو سره حضرت امام حسن مجتبىٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته رسي[2] ❁ د هغوئي شجرهٔ طريقت (يعنې د هغوئي پير صاحب، بيا د هغوئي پير صاحب، بيا د هغوئي پير صاحب دا چې کومه لړئ ده، دا شجره شريف هم) په 11 واسطو سره حضرت علِـيُّ المُرتضىٰ، شير خدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته رسي ❁ حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خپل کتاب جاء الحق کښې د دې بل يو ډير ښکلے او ايمان تازه کوونکے سبب ليکلے دے. ليکي: حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به 12 شريف يعنې د سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:19.

[2]... زبدة الآثار، ذكر نسبه وصفته، صفحه:3635.



www.dawateislami.net

میلاد شریف په ډیره پابندئ سره کولو، یوه ورځ رسول ذیشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل: **عبد القادره! تا مونږ ته د دولسم رایاد کړو، مونږ تا له یولسم درکوو.** دا سرکاري عطیه ده، ځکه په ټوله دنیا کښې خوره شوه. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د صدو [یعني سوونو کالو] تیریدو نه پس اوس هم د غوث پاک غلامان په ربِیعُ الآخر کښې خصوصاً او د دې نه علاوه د اسلامي میاشت په هر 11 تاریخ په شوق سره د 11 شریف اهتمام کوي.[1]

| | |
|---|---|
| تیرے جد کی ہے بارہویں غوثِ اعظم | ملی ہے تجھے گیارہویں غوثِ اعظم |
| تجھے سب نے جانا، تجھے سب نے مانا | تری سب میں دُھومیں مچیں غوثِ اعظم[2] |

## غوثِ پاک او د اُمّت اِصلاح

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** راځئ! د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تعلیماتو او د هغوئي د دیني خدمتونو په باره کښې د یو څو خبرو اوریدلو سعادت حاصلوو:

## ځویه! ستا اودس نه وو

شیخ اَبُو الفَرَج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د غوثِ پاک عاشق دے، هغوئي ته د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمانه مبارکه نصیب شوه، د زیارت شرف ئې هم نصیب شو او د حُضور غوثِ

[1]... جاء الحق، صفحه:220خلاصةً.

[2]... قبالهٔ بخشش، صفحه:166.



www.dawateislami.net

پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عقيدت او محبت ورته هم عطا شو. شيخ ابُو الفَرَج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زما د حُضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدرسې په خوا د تيريدو سعادت نصيب شو، دا د مازديګر د لمُونځ وخت وو او هلته په جُمات کښې تکبير وئيلے کيدلو، ما موقع غنيمت اوګڼله چې يو خو به د مازديګر لمُونځ د جَمعې سره اوکړم او ورسره به د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت هم نصيب شي، زه زر جُمات ته لاړم، زما خيال وو چې زما اودس شته، زه زر په جَمعه کښې شامل شوم، په حُضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پسې مې لمُونځ اوکړو، کله چې د لمُونځ نه فارغ شوم نو د زړونو د حال نه خبر، د بے لارې شوو رَهبر حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما په لور متوجه شو او اوئې فرمائيل: اَیْ بُنَیَّ! اے ځويه! اَلْغَفْلَةُ شَامِلَةٌ لَّكَ غفلت ته راګير کړے ئې، قَدْ صَلَّيْتَ عَلٰى غَيْرِ وُضُوءٍ تا بغير د اودسه کولو نه لمُونځ اوکړو.[1]

| | |
|---|---|
| قطبِ اَبدال بھی ہے محورِ ارشاد بھی ہے | مرکز دائرۂ سرّ بھی ہے عبدالقادر |
| اس کے فرمان ہی سب شارح حکم شارع | مظہرِ ناہی و آمر بھی ہے عبد القادر |

**وضاحت:** زمونږه حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عبد القادر دے يعنې قدرتونو والا رَبِّ کريم بنده دے، هغوئي د قطب او ابدال په مرتبه فائض دي او د نيغې لارې او د اَسرَار د کربښې مرکز هم دے، د هغوئي ارشادات د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرامينو تشريح ده او د هغوئي کلام د الله پاک د حکم مطابق وي.

[1]... القلائد الجواہر، صفحہ:30 خلاصةً.



www.dawateislami.net

# د مؤمِن د فراست کمال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خومره ښکلے شان دے زما د پير، د پيرانو پير، پير دستګير حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ...!! د شيخ اَبُو الفَرَج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ېخپله هم هير وو، هغه ته ېخپله هم معلوم نه وو چې زما اودس شته او که نه خو قربان شم! حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل عِلمِ باطن او نُورِ بصيرت سره پوهه شو چې هغوئي بغير د اوداسه نه لمُونځ کړے دے. دا د اوليائے کرامو اوچت شانونه دي، الله پاک د خپلو نبيانو په وسيله باندې دوئي ته هم د پټو خبرو عِلم عطا کوي. په **حديثِ پاک** کښې دي: اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ يَنْظُرُ بِنُوْرِ الله د مؤمن د فراست نه بچ اوسئ ځکه چې هغه د الله پاک په نُور سره ګوري.[1]

فراست يو نُور دے کوم چې الله پاک د بنده په زړه کښې ګرځوي.[2] علّامه مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **حديثِ پاک** شرحِ کولو سره ليکي: هغه نُور کوم چې الله پاک د کامِل مؤمن په زړه کښې ګرځوي، د دې سره د بنده زړه د روښانه کيدو سره د شيشې په شان شي (په کومه کښې چې هر څيز ښکاره په نظر راځي)، ځکه د دې نُور په برکت سره بنده د پټو خبرو نه خبر او رازونو ليدلو والا جوړ شي.[3]

---

[1]... ترمذی، کتاب تفسير القرآن، باب و من سورة الحجر، صفحه:722، حديث:3127.

[2]... لمعات التنقيح، کتاب الصلاة، باب ما لا يجوز من العمل...الخ، جلد:3، صفحه:113، تحت الحديث:978.

[3]... فيض القدير، جلد:1، صفحه:186185، تحت الحديث:151 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

## تاسو زما د پاره د شیشې په شان ئې

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه پیر حضور شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه یواځې کامِل مؤمن نه دے بلکه د کامِلانو هم اِمام دے، د پیرانو پیر دے. هغوئي ته هم رَبِّ کریم د فراست نُور عطا کړے وو، د هغوئي خو څومره ښکلے شان دے، هغوئي پخپله فرمائي: اے خلقو! که زه شریعت نه وے منع کړے نو ما به تاسو ته وئیلے وے څه چې تاسو په کورونو کښې خورئ او څه چې پریږدئ او راځئ، اَنْتُمْ بَيْنَ يَدِیْ كَالْقَوَارِيْرِيُرٰى مَافِیْ بَوَاطِنِكُمْ وَظَوَاهِرِكُمْ تاسو زما مخې ته د شیشې د بوتل په شان ئې، ستاسو ظاهر باطِن ټول هر څه په نظر راځي.[1]

| | |
|---|---|
| بندہ قَادِر کا بھی، قادر بھی ہے عَبْدُالقَادِر | سِرِّ باطن بھی ہے ظاہر بھی ہے عَبْدُالقَادِر |
| مفتیِ شرع بھی ہے، قاضیِ ملّت بھی ہے | عِلْمِ اَسرار سے ماہِر بھی ہے عَبْدُالقَادِر |
| ذی تَصَرُّف بھی ہے مَاذُون بھی مختار بھی ہے | کارِ عالَم کا مُدَبِّر بھی ہے عَبْدُالقَادِر[2] |

**وضاحت:** زمونږه غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عبد القادر دے یعنې د قدرتونو والا رَبِّ کریم بنده دے، الله پاک هغوئي ته قدرت عطا کړے دے، هغوئي د ظاهر او باطِن رازدار دے، د شریعت مفتي هم دے، د مِلَّت قاضي هم دے، د باطني علومو ماهر هم دے، الله پاک هغوئي ته اختیارات هم عطا کړي دي، هغوئي ته د زمانے د تدبیر اجازت هم عطا کړے شوے دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]... بهجةُ الْاَسْرَار، ذکر کلمات اخبر بها عن نفسه...الخ، صفحه:55.

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:69 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

# په انفرادي طور باندې پوهه کوئ!

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واقعه واوریدله، د شیخ اَبُو الفَرَج رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه هیر شوي وو، هغوئي په بے خیالئ کښې بے اودسه لمُونځ اوکړو، په دې باندې زمونږه پیر، شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فوراً د هغوئي اصلاح اوفرمائیله او اوئې وئیل چې ستا اودس نه وو، ځکه اودس اوکړه او بیا لمُونځ اوکړه...!!

د دې نه د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د نیکئ د دعوت جذبه هم معلومیږي ❁ هغوئي به **اَلۡحَمۡدُلِلّٰه!** بیانونه هم فرمائیل ❁ په لویو لویو اجتماعاتو کښې به ئې د اثرنه ډك بیانونه کولو سره د خلقو ژوند هم بدلولو ❁ په مدرسه کښې به ئې سبق هم ښودلو ❁ او د دې سره سره به هغوئي په انفرادي طور باندې د خلقو د پوهه کولو سره د هغوئي د اصلاح ذریعه هم جوړیدله.

کاش! مونږ ته هم دا جذبه نصیب شي! عام طور د اجتماعي نیکئ سلسله روانه وي، مبلغین بیانونه کوي، درسونه ورکوي، د سوشل میډیا او ټي وي چینلو په ذریعه هم خلق نورو خلقو ته د نیکئ درس رسوي **خو په انفرادي طور باندې که څوک په غلطئ کولو باندې اووینې نو د هغه د پوهه کولو، د نیکئ دعوت ورکولو، د هغه د اصلاح کولو په ذریعې جوړیدو کښې ډیر کمے په نظر راځي.** په انفرادي طور باندې د پوهه کولو عموماً هِمَّت نه کیږي، د درس او بیان په نسبت په دې کښې ویره ډیره وي خو د اجتماعي نیکئ د دعوت په نسبت په انفرادي طور باندې د پوهه کولو ضرورت هم ډیر دے،



www.dawateislami.net

اهميت هم ډير دے او د دې فائدے هم ډيرې وي. دا شرعي مسئله هميشه ياده ساتئ! که مونږ څوک په څه ګناه کولو باندې اوليدل او زمونږ غالب ګمان وي چې که زه دے پوهه کړم نو دے به پوهه شي، په داسې حالت کښې پوهه کول واجب کيږي.[1]

ځکه په انفرادي طور باندې د خلقو د پوهه کولو عادت جوړ کړئ! ❁ څوک مو په لمونځ کښې په غلطئ کولو اوليدلو ❁ څوک مو په اوداسه کښې په غلطئ کولو اوليدلو ❁ د چا دکان ته لاړئ، هغه سندرې غږولې ❁ څوک مو په غيبت کولو ❁ په چغلئ کولو اوليدلو ❁ په کنزلو کولو مو اوليدو، که دا پوخ ګمان وي چې زما په پوهه کولو به دے پوهه شي، په داسې حالت کښې ❁ د موقعې په مناسبت سره ❁ په حکمتِ عملئ سره ❁ په مينه محبت د هغه په پوهه کولو او د نيکئ د دعوت په ثواب ګټلو کښې هيڅ کله هم سستي نه دي کول پکار. زما او ستاسو آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په الله پاک مې دې قسم وي! که الله پاک ستا په ذريعه يو کَس ته هم هدايت نصيب کړو نو دا ستاسو د پاره د سرو اوښانو نه بهتره ده. د حضرت کعب الاحبار رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے: جنت الفردوس خاص د هغه کَسانو د پاره دے کوم چې د نيکئ دعوتورکړي او د ګناه نه منع کړي.[2]

الله پاک دې مونږ ته ښه ډير د نيکئ د دعوت عام کولو توفيق را نصيب کړي. يقين اوکړئ! که مونږه دا انداز اختيار کړو، پوهه کيدونکي پوهه کوونکي جوړ شو،

---

[1]... بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:615، حصه:16 بتغير قليل.

[2]... تَنْبِيْهُ الْمُغْتَرِّين، و من اخلاقهم امرهم بالمعروف...الخ، صفحه:201.



www.dawateislami.net

زده کوونکي نورو ته ښودونکي، اصلاح کوونکي او اصلاح قبلوونکي جوړ شو نو زمونږه معاشره به مثالي معاشره جوړه شي. اللّٰه پاک دې د عمل جذبه نصیب کړي.

| | |
|---|---|
| میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچا دوں | ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی |
| مُبلِّغ بنوں کاش! میں سُنّتوں کا | سَدا دین کی خدمت کروں یہ دُعا ہے[1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُحیُ الدِّین دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د 5 صدئ هجرئ یعني په کوم دور کښې چې حُضور غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دنیا ته تشریف راوړلو، هغه وخت مسلمان اُمَّت د ډیرو ازمیښتونو سره مخ وو، د مسلمانانو په عقیدو او نظریو باندې حملے کیدلې، بد مذهبئ خوریدلې، د مسلمانانو اَخلاق او کردار زخمي کیدل، کافرانو سازشونه راجوړول، په اُندلُس (اوسني سپین) کښې د مسلمانانو حکومت په ختمیدو وو، مِصر کافرانو قبضه کړے وو او په عراق کښې د حَسَن صبّا (نومې مُنافق او ډیر چالاکه کَس) تنظیم وینې توئیولې او قتلونه او لوټ مار ئې شروع کړے وو او بغداد شریف کوم چې هغه وخت دار الخلافه وه، د دې ځائے حالات داسې وو چې وئیلے کیدل:

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:332.



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| قَارُوْنُ لَوْ حَلَّ بِهَا | جَازَتْ عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ |

يعني که د قارُون په شان ډير مالداره کَس هم که چرې په بغداد کښې اوسيدل شروع کړي نو (د هغه ځائے د حالاتو، ګرانئ او خرچو په وجه به دومره کنګال شي چې) په هغه به هم زکوٰة کيږي.

حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په داسې نازکو حالاتو کښې د دين خِدمت اوکړو، د مسلمان اُمَّت د ډوبې شوې کشتئ په راويستلو کښې ئې ملاتړ اوکړو، د دين اصلي تعليمات ئې ژوندي کړل او د مسلمانانو اخلاق او کردار ئې د قرآن و سُنت او د ديني تعليماتو د نُور نه ډک کړل. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې خدماتو په وجه باندې هغوئي ته مُحْيُ الدِّيْن (يعني دين ژوندے کوونکے) وئيلے شي.

| | |
|---|---|
| تُو حُسینی حَسَنی کیوں نہ مُحْیُ الدِّیں ہو | اے خِضَر مَجْمَعِ بَحْرَیْن ہے چشمہ تیرا[1] |

## مُحيُ الدِّين لقب خنګه ميلاو شو...؟

حُضور غوثِ پاک اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل د جُمعې ورځ وه، زه د سفر نه واپس را روان ووم، په لار کښې ما يو ډير کمزورے کس اوليدلو، هغه ما ته سلام اوکړو، ما جواب ورکړو، هغه کَس اووئيل: ما راپاخوه! ما چې هغه راپاخولو نو فوراً د هغه مخ روښانه او بدن تازه شو. زه حيران شوم، په دې باندې هغه اووئيل: د حيرانتيا خبره نه ده، زه (ستاسو د نيکه بابا جان حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دين يم، (د خلقو د بے رغبتئ او

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه: 19 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

بے عملئ په وجه) زه کمزورے کیدم، الله پاک ستاسو په ذریعه ما ته نوے ژوند راعطا کړو، تاسو مُحْیُ الدِّیْن ئې. د دې نه پس چې کله زه بغداد ته اورسیدم، د جُمعې لمُونځ مې ادا کړو نو خلقو زما په لور رامنډې کړې او د یامُحْیُ الدِّیْن آواز ئې کولو او زما لاسونه ئې ښکلول.[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! زمونږه پیر حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُحْیُ الدِّیْن دے، یعنې په خلقو کښې بے عملي زیاتیدله، بد مذهبي په زور کښې وه، خلق د دین نه لرې کیدل، سنت ئې پریښودي وو او په فیشن پسې ئې منډې وهلې، د لمُونځونو جذبه کمیدله، د مال او دولت محبت، د منصب، عهدې او تاج او تخت لالچ په زړه کښې کور کولو، په داسې حالاتو کښې حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د امت اصلاح ته ملا کلکه اوتړله او د شپه ورځ محنت سره ئې دین بیا ژوندے کړو.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت سره د لکونو کروړونو خلقو اصلاح اوشوه، غلان راغلل، توبه ئې کړه او د ولایت اوچتې مرتبے ته اورسیدل، شرابیان، بے حیا، بد اخلاقه، ګمراهان، بد مذهبه، تر دې چې غیر مسلمو هم د هغوئې په لاس مبارک باندې کلمه اووئیله او مسلمانان شول. د غوث اعظم یو عاشق لیکلي دي:

---

[1]… بهجةُ الْاَسْرَار ، ذکر فصول من کلامه مرصعا…الخ، صفحه:109 خلاصةً.



www.dawateislami.net

بِمَقْدَمِه اَنْهَلَ السَّحَابُ وَ اعْشَبَ الْعِرَاقُ | وَزَالَ الْغَیُّ وَاتَّضَحَ الرُّشْدُ![1]

**مفهوم:** د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د راتللو سره (د رحمت) وريځو اوبه خور اوکړو او عراق ښار کښې شينکے شو، او ګمراهي لاړه او هدايت ظاهر شو.

## بد اخلاقه هلک توبه کړه

حضرت ابو قَوّاس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ زه او زما سره ډير خلق د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د زيارت د پاره روان شول، مونږ ټولو د خپلو مشکلاتو او پريشانو د حل د پاره د دُعا کولو اراده لرله، په لار کښې نور خلق هم زمونږ سره ميلاو شول. په هغوئي کښې يو هلک وو، اکثر به پاک نه وو، خير مونږ ټول د غوثيت د بارګاه په لور روان وو چې اتفاقاً د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره په لار کښې ملاقات اوشو، مونږ ټول را وړاندې شو او سلام مو اوکړو او د هغوئي لاس مبارک مو ښکلول. هغه هلک د کوم چې اخلاق ښه نه وو، چې کله هغه د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د لاسونو ښکلولو د پاره ور وړاندې شو نو حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل لاس لرې کړو، بيا ئې يو نظر هغه هلک ته اوکتل، د سرکار غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د نظر مبارک تاب ئې رانه وړو او هغه هلک د بے هوشه کيدو سره راپريوتو، کله چې هغه په هوش کښې راغلے نو فوراً ئې د خپلو بدو اعمالو نه توبه کړه، بيا حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغه سره لاس ميلاؤ کړل.[2]

---

[1]... بهجةُ الْاَسْرَار، ذكر علمه وتسمية بعض شيوخه رضى الله عنه، صفحه:202.

[2]... قلائد الجواهر، صفحه:32 خلاصةً.



www.dawateislami.net

# بد مذهبو توبه کړه

شيخ ابو الحسن قَرشَي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د 559 هجرئ واقعه ده چې د بد مذهبو يوه لويه ډله د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په خدمت کښې حاضره شوه، د هغوئي سره دوه ټوکرئ وې، د کومو خُلې چې بندې وې، هغه بد مذهبو د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه نه پوښنه اوکړه: اووائې! په دې ټوکرو کښې څه دي؟ حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په خپل بصيرت (يعنې باطني نظر، د زړه په نُور) پوهه شو او په يوه ټوکرئ ئې لاس کيښودو او اوئې فرمائيل: په دې کښې يو معذوره ماشوم دے، سرکار غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په هغه ماشوم باندې لاس کيښودو او اوئې فرمائيل: **قُمۡ بِاِذۡنِ الله!** د الله پاک په حکم باندې اودريږه...! د دومره فرمائيلو سره د هغه ماشوم معذوري ختمه شوه او هغه صحيح سلامت اودريدو، بيا حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په بله ټوکرئ باندې لاس کيښودو او اوئې فرمائيل: په دې کښې صحت مند ماشوم دے. کله چې ټوکرئ برسيره کړے شوه نو واقعي په هغې کښې صحت مند ماشوم وو، د بغداد د شهنشاه حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه دا ژوندي کرامت ئې چې اوليدل نو هغوئي ټولو بد مذهبو د خپلو بدو عقيدو نه توبه کړه او رښتيني عاشقانِ رسول جوړ شول.[1]

| | |
|---|---|
| لینے شفائے کامِلہ دربار میں اے کامل | بیمارِ عِصیاں آگیا بغداد والے مرشد |
| ایمان اس کا بچ گیا شیطان سے، جو تیرے | ہے سلسلے میں آ گیا بغداد والے مرشد |

[1] ...قلائد الجواہر، صفحه:30 خلاصةً.



www.dawateislami.net

کیوں نَزع وقَبر وحشر کا ڈر اَب مُریدوں کو ہو | تو ”لاتخَف“ سنا گیا بغداد والے مرشد[1]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په خوب کښې هم د نیکۍ دعوت

فُتُوحُ الغیب کوم چې د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه کتاب دے. په دې کښې هغوئي فرمائي: یوه ورځ زه اوده ووم، ما په خوب کښې اولیدل چې په یو جمات کښې یم، هلته ډیر خلق راجمع دي، ما په زړه کښې سوچ اوکړو: کاش! چې دلته فلانکے نیک بنده وے، هغوئي به دې خلقو ته دین او ادب ښودلے...!! د دومره سوچ کولو نه پس ما یو نیک کَس ته اشاره اوکړه، زما د اشارې سره هغه ټول خلق زما خوا ته راجمع شول، په هغوئي کښې یو اووئیل: حضور! تاسو خبرې ولې نه کوئ؟ (یعنې تاسو مونږ ته څه اوښائې!).

حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د هغوئي درخواست قبول کړو او هغوئي ته ئې د نیکۍ په دعوت ورکولو لاس پورې کړو، هغوئي په خوب خوب کښې یو اثرناکه بیان اوفرمائیلو،[2] د کوم په برکت چې هغه ټولو خلقو توبه کړه او د سعادت مقام ته

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 545 546 ملتقطًا.

[2] ... فتوح الغیب، المقالة الخامسة عشرة فی الخوف و الرجاء، صفحه: 33 خلاصةً.



www.dawateislami.net

اورسیدل.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! څومره ښکلے شان دے زمونږ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ...!! څومره ښکلے خوب دے، څومره ښکلې بیداري ده، د دې نه پته لګي چې د نیکۍ دعوت ورکول، د معاشرے اصلاح کول د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د طبیعت حصه جوړه شوې وه، تر دې چې که هغوئي به په خوب کښې وو او که بیدار به وو په هر حال کښې د علم عام کولو، خلقو ته د نیکۍ دعوت ورکولو، د الله پاک بندګان د الله پاک سره د میلاوهلو په فکر کښې به وو.

کاش! چې مونږ ته هم دا سعادت نصیب شي: مونږ ته د ټولې دنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!)، بیا د دې مقصد اخستو سره بس هر وخت د زده کولو، ښودلو، اوریدلو، اورولو، پوهیدو، پوهه کولو، د نیکو کولو او د نیکو د دعوت په عام کولو کښې مصروف اوسو. که کور وي، دکان وي، بازار وي که محله وي، سفر وي که سفر نه وي، که په فون خبرې وي که مخامخ ملاقات وي، بس هر وخت د نیک اوسیدو او نیک جوړولو شوق پیدا وي.

نیک بن جائیں ہم، تاجدارِ حرم | دردِ عصیاں مٹے، عادتِ بد چُھٹے
واسطہ خُلقِ محبوب کا ہے | یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے

[1]... شرح فتوح الغیب، المقالة الخامسة عشر، صفحه: 94 خلاصةً.



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| سُنّتوں کی کروں خوب خدمت | ہر کسی کو دوں نیکی کی دعوت |
| نیک میں بھی بنوں اِلتجا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے[1] |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نیک جوړیدو مشین جوړ شئ!

د غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عاشق، شيخِ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه زمونږ د پوهه كولو سره ليكي:

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيكو حرص لرونكي جوړ شئ، د نورو خلقو د لمُونځ ګزاره جوړولو مهم ښه تيز كړئ، كله چې هم د جَمعې د لمُونځ د پاره جمات ته ځئ، نورو له ترغيب وركوئ او د ځان سره ئې بوځئ، چې چا له لمُونځ نه ورځي هغه ته لمُونځ ورښائي. كه ستاسو په وجه يو هم لمُونځ ګزاره شو نو تر څو پورې چې هغه لمُونځونه كوي د هغوئي د هر يو لمُونځ به تاسو ته هم فائده در رسيږي. د زيات عمر عاشقان رسول د پاره په مختلفو وختونو كښې په لګيدونكو **مَدرسَّةُ المَدينه بالغان** كښې داخله واخلئ، په دې كښې پخپله هم قرآنِ كريم زده كړئ او نورو ته ئې هم اوښائي. ستاسو نه زده كوونكې چې به كله هم تلاوت كوي تاسو ته به هم د هغه تلاوت ثواب ميلاويږي. تاسو هم په سنتو باندې عمل اوكړئ او نورو له هم د عمل كولو ترغيب وركړئ. كه تاسو

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:139.



www.dawateislami.net

يو ته هم سنت اوښودلو نو بيا چې هغه کله هم په هغه سنت باندې عمل کوي ستاسو به هم په هغه سنت باندې د عمل کوونکي په شان ثواب کيږي. د نيکۍ د دعوت د پاره په علاقائي دوره او په مدني قافلو کښې د سنتو ډک سفر په ذريعه د ځان او د نورو د اصلاح ښه مهم چلولو سره د مسلمانانو د **نيکانو** جوړولو **مشين** جوړ شئ،اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د ثواب ډيرے به جوړ شي او دواړه جهانونه به مو ښه شي.

تیرے کرم سے اے کریم! مجھے کون سی شے ملی نہیں
جھولی ہی میری تنگ ہے تیرے یہاں کمی نہیں

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام **محمد** بن **محمد** غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل حضرت سيِّدُنا مُوسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله! څوک چې خپل ورور رااوبلي او د نيکۍ حکم اوکړي او د ګناه نه منع کړي. د هغه څه جزا ده؟ الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: زه د هغه د هرې کلمے په بدله کښې د يو يو کال ثواب ليکم او هغه له د دوزخ په سزا ورکولو کښې ما له حيا راځي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! که تاسو چا له د نيکۍ دعوت ورکړئ نو د يوے يوے کلمې (لفظ، قول يا خبرې) په بدله کښې به د يو يو کال د عبادت ثواب بياموموئ، فرض کړئ! تاسو يوه ورځ په جمات کښې صرف د يو اسلامي ورور په مخکښې د **فيضانِ سنت** نه درس ورکړو او د دې نه مو دوه صفحې اولوستلې، که په هغې کښې 20 خبرې د نيکۍ او خير بيان شوې

---

[1]... مکاشفة القلوب، باب فی الامر بالمعروف و النهی عن المنکر، صفحه:65.



www.dawateislami.net

نو که درس اوریدونکي هغه اسلامي ورور په دې باندې عمل اوکړي یا ئې اونکړي ستاسو په اعمال نامه کښې به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د شلو کالو د عبادت ثواب اولیکلے شي او که ستاسو نه د اوریدو سره هغه اسلامي ورور په دې باندې عمل شروع کړو نو هغه چې تر څو پورې عمل کوي نو تاسو ته به هم د هغه عمل کوونکي همره ثواب میلاویږي او که هغه ستاسو د درس نه زده شوے سنت بل چا ته اورسولو نو د هغې ثواب به هغه رسوونکي ته هم میلاویږي او تاسو ته هم. دغه شان به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! ستاسو ثواب زیاتیږي. د نیکۍ د دعوت په آخرت کښې میلاویدونکے ثواب که بنده په دنیا کښې اووینې نو یو ساعت به هم بیکاره نه پریږدي، هر وخت به د نیکۍ دعوت ورکوي.[1]

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں | تو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ پاک تعلیمات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه صاحب د سلسلے دے یعنې هغوئي د سلسله عالیه قادریه بنیاد کیښودو او د دې اصول ئې مقرر کړل. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دا هم باریک بیني او دور اندیشي ده چې هغوئي په خپل دور کښې د معاشرے د اصلاح په خاطر کوم اصول مقرر کړي وو، نن هم هغه اصول

[1]… نیکی کی دعوت، صفحه:230،231 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

فائده مند دي، که مونږه د سلسله عاليه قادريه دا بنيادي اصول اختيار کړو نو زمونږه معاشره یوه مثالي معاشره جوړيدے شي. د سلسله عاليه قادريه دا بنيادي اصول څه دي؟ راځئ! په دې کښې يو څو اورو:

## (1) مُجاهَده

د سلسله عاليه قادريه وړومبے اصول مجاهَده ده. د دې مطلب دے: د خپل ځان ټیک کولو د پاره باقاعده کوشش کول. الله پاک په قرآن کښې فرمائي:

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا

**مفهوم ترجمه كنز العرفان:** او چا چې زمونږ په لار کښې کوشش اوکړوضرور به هغوئي ته خپلې لارې اوښايو.

(پاره:21، العنکبوت:69)

معلومه شوه څوک چې په صحيح لار باندې د راتللو د پاره، د الله پاک د قرب موندلو د پاره، د ګناه پرېښودو، د بدو عادتونو نه د بچ کيدو د پاره په رښتيا کوشش اوکړي، الله پاک هغه ته د صحيح لارې هدايت نصيب کوي.

ځکه حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خپلې سلسله عاليه قادريه بنياد په مجاهده باندې کيښودے دے، لکه چې د خپلو تعليماتو په ذريعه مونږ ته را ښائي چې خلقو! صرف په خبرو کولو باندې هيڅ نه کيږي بلکه په مونږ کښې په هر يو باندې لازم دي چې مونږ په انصاف سره په خپل ګريوان کښې اوګورو، خپلو بدو، خپلو ګناهونو، خپلو



www.dawateislami.net

بدو عادتونو ته پخپله اوګورو، بیا د هغه بدو او د خرابو عادتونو ختمولو سره د دې په ځائے د ښه عادتونو خپلولو پوره کوشش اوکړو، چې د معاشرے هر ګس دا کوشش شروع کړي نواِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! صحیح کیدل به شروع شي، د دې په برکت به ټوله معاشره د ټیک کیدو سره یوه مثالي معاشره جوړه شي.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څکه مونږ له پکار دي چې هم د نن نه مونږه مجاهده شروع کړو. دا به څنګه کیږي؟ راځئ! د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه یو اثرناک بیان اورو:

## که نجات غواړئ نو

په 11 رجب کال 545 هجرئ، د ګل ورځ او سحر وو، حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په بیان کښې اوفرمائیل: اے انسانه! که کامیابي غواړې نو د خپل نفس مخالَفَت او د خپل رَبّ اطاعت اوکړه! خپل نفس د مجاهدې په ذریعه وِیلې کړه! که داسې اوکړئ نو ستاسو زړه ته به اطمینان او سکون میلاؤ شي. اے انسانه! خپل امیدونه کم کړه، ستا نفس به ستا فرمانبرداره شي. خپل نفس د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا نصحیت واوروئ چې[1] هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: چې کله ته سبا کړې نو خپل ځان له د ماښام طمع مه ورکوه! چې کله ماښام کړې نو د سحر طمع مه ورکوه! بے شکه تا ته پته نشته چې سحر به ستا څه نوم وي (یعنې تا به په جناب سره رابللے شي که په مرحوم سره

---

[1]...الفتح الربانی، المجلس الثالث و الاربعون فی النفس الامارہ، صفحه: 139 140 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

یادولے شي).[1]

خوږواو محترمو اسلامي ورونړو! دا ده د مجاهدے طریقه، مونږ خپل امیدونه کم کړو، مرګ، قبر او آخرت هر وخت خپلې مخې ته کړو، د الله پاک او د هغه د رسول په حکمونو باندې ښه پوخ عمل اوکړو، په دې معامله کښې د نفس او د شیطان په دهوکه کښې نه راشو، که مونږ دا عادت اختیار کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! مونږ به په خپله اصلاح کولو کښې کامیاب شو او که هر څوک خپله اصلاح اوکړي نو ټوله معاشره به سمه شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشق، شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په اوسني وخت کښې د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې تعلیم باندې په آسانئ سره د عمل کولو د پاره نیک اعمال عطا کړي دي. د اسلامي ورونړو د پاره 72 نیک اعمال، د اسلامي خویندو د پاره 63، د وړو ماشومانو د پاره 40، او د طالب علمانو د پاره 92 نیک اعمال دي. دا یوه وړه شان رساله ده، په کومه کښې چې لنډ لنډ سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې خالي خانے دي، مونږ له دا کول دي چې څه وخت مقرر کړو او هره ورځ دا رساله برسیره کول دي، د دې سوالونه لوستل دي او د دې نه لاندې خانو کښې د آو یا نهٔ نخښه لګول دي. د خپلې اصلاح دا داسې بے مثاله طریقه ده چې که مونږ ئې اختیار کړو او په استقامت سره په دې باندې عمل اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په کلونو یا میاشتو کښې نه بلکه په ورځو کښې به په مونږ کښې بدلون شروع شي.

---

[1]... ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء فی قصر الامل، صفحہ:558، حدیث:2333 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

# د ټولې کورنۍ اِصلاح اوشوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځُونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ما ته د مانښام د لمُونځ کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د مانښام لمَانځه نه پس بیان ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخره کښې مبلغ د **نیک اعمال** رسالے تعارف اوکړو، په رساله **نیک اعمال** کښې درج د نیکو نه ډک ژوند تیرولو مدني ګل لیدلو سره زه ډیر خوشحاله شوم، د دې رسالے په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت لیدو سره ما لاس په لاس د بیعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بیزاره شوم او نیکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرې باجے بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چینل په ځائے مدني چینل اولګیدلو.[1]

---

[1]... دلوں کا چین، صفحه:4.



www.dawateislami.net

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین
"مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[1]

**یاد ساتئ:** د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (2) تَوَكُّل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د سلسله عاليه قادريه دويم اهم بنيادي اصول تَوَكُّل دے. حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د تَوَكُّل حقيقت دا دے چې بنده خپل ټول کارونه الله پاک ته اوسپاري او د زړه نه يقين اوکړي چې قسمت به نه بدليږي، څه چې په قسمت کښې ليکلے شوي دي، هغه به ميلاويږي، څه چې نه وي ليکلے شوي، هغه به چرې هم نه ميلاويږي. چې کله بنده د زړه د يقين سره په دې خبره باندې پوهه شي نو د هغه زړه به سکون بيامومي.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا هم اهم تعليم دے او د معاشرے د اصلاح دا ډير اهم بنياد دے ❁ د تَوَكُّل په برکت سره بنده د لالچ نه بچ کيږي ❁ د حسد د بيمارئ نه

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه: 258.

[2]... اَلْغُنْيَه، القسم الخامس التصوف، باب المجاہدة والتوكل... الخ، صفحه: 317 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

نجات میلاویږي ❁ د مال او دولت محبت د زړه نه ووځي ❁ د دهوکے ❁ تکړئ ❁ دروغو ❁ غلا غُلطئ وغیره خومره ډیرو ګناهونو نه بنده ته نجات حاصل شي. تاسو پخپله غور اوکړئ! چې په معاشره کښې کله دا دومره ډیر عیبونه پاتې نه شي نو معاشره به خومره پاکه او ښکلې شي. ځکه مونږ له پکار دي چې تَوَکُّل اختیار کړو.

## د تَوَکُّل زیاتولو روحاني وظیفه

فَقِیهُ العصر (یعني د خپل وخت لوئے عالم دین) مفتي محمد امین صاحب رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہِ فرمائي: د حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْل وظیفے کولو سره تَوَکُّل پخیږي او د چا چې تَوَکُّل پوخ شي، هغه ته د هیڅ څیز کمے نه پاتې کیږي، ځکه چې اللہ پاک فرمائي: [1]

وَمَنۡ یَّتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰہِ فَھُوَ حَسۡبُہٗ **مفهوم ترجمه کنز العرفان:** او څوک چې په اللہ باندې باور اوکړي نو هغه، د هغه د پاره کافي دے.

(پاره:28، الطلاق:3)

## (3) صِدق یعنې رښتیا وئیل

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د سلسله عالیه قادریه دریم اهم بنیادي اصول صِدق یعنې رښتیا وئیل دي. یو ځل چا د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہِ نه پوښتنه اوکړه: ستاسو د طریقے بنیاد په څه باندې دے؟ اوئې فرمائیل: عَلَی الصِّدْقِ یعنې زمونږ د طریقے بنیاد په

[1]... دو خزانے، صفحه:3 خلاصةً.



www.dawateislami.net

رښتیا وئیلو باندې دے. ما د وړوکوالي نه تر اوسه پورې چرې هم دروغ نه دي وئیلي.[1]

د معاشرے د اصلاح د پاره دا هم ډیر اهم بنیاد دے. که په معاشره کښې په دروغو باندې مکمل پابندي اولګولے شي او د رښتیاؤ رواج جوړ کړے شي نو زمونږه معاشره به د ډیرو زیاتو بدو نه پاکه شي. ډیره مشهوره واقعه ده: یو ځل په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړے شو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زه شراب هم څښم، غلا هم کووم او دروغ هم وایم، په دې درېو واړو کښې صرف یوه ګناه پریښودے شم، اووائې! کومه یوه پریږدم؟ اوئې فرمائیل: دروغ وئیل پریږده.

بس چې هغه دروغ پریښودل نو د دې په برکت د دواړو ګناهونو نه ورته هم خلاصے نصیب شو.[2]

## سندر غاړي توبه کړه او نیک انسان جوړ شو

یو ځل حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د قربانئ په موضوع باندې بیان فرمائیلو، په بیان کښې هغوئي ناڅاپه خاموشه شو او اوئې فرمائیل: تر څو پورې چې 100 اشرفئ ورنکړے شي، زه به بیان مخکښې نه بوځم. د هغوئي د دې فرمان اوریدلو سره فوراً 40 کسان اودریدل او هغه ټولو سل سل اشرفئ وړاندې کړې، غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په هغوئي کښې د یو اشرفئ قبولې کړې او خپل خادم ابو رضا له ئې ورکړې او اوئې فرمائیل:

---

[1]... بہجۃُ الاسرار، ذکر طریقہ رضی اللہ عنہ، صفحہ:167 خلاصةً.

[2]... تفسیرِ کبیر، پارہ11:، التوبہ، زیرِ آیت:119، جلد:6، صفحہ:167 خلاصةً.



www.dawateislami.net

فلانکئ مقبرې ته لاړ شه! هلته به يو بوډا ګَس وي کوم چې به عُود (مثلاً ګټار) غږوي، هغه له دا اشرفۍ ورکړه او هغه هم د خپل ځان سره زمونږ خوا له راوله.

د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خادم ابو رضا رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: زه چې کله مقبرې ته اورسيدم، اومې کتل نو د غوثِ پاک د فرمان مطابق يو بوډا ګَس موجود وو، کوم چې عُود (يعنې ساز) غږولو، ما هغه ته سلام اوکړو، بيا چې مې هغه له څنګه اشرفۍ ورکولې، هغه بوډا يوه تيزه چغه ووهله او د بے هوشه کيدو سره راپريوتو نو ما اووئيل: شيخ عبد القادر جيلاني تاسو ته آواز کوي. کله چې مونږ د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په بارګاه کښې حاضر شو نو غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: دا بوډا منبر ته راوله! هغه منبر ته راغلے. اوئې فرمائيل: خپله قِصَّه بيان کړه! بيا هغه بوډا عرض اوکړو: زه په ځوانۍ کښې ډير ښه سندر غاړے ووم، آواز مې ډير ښه وو، په خلقو کښې مشهور ووم، ژوند مې ښه په آرام تيريدو، بيا بوډا والے راغلے، په آواز کښې سُر پاتې نه شو، بيا خلقو زما نه مخ واړولو، په دې باندې زما زړه مات شو او ما دا اوټاکله چې اوس به ژوندو ته نه بلکه مَړو ته به سندرې اوروم. نو زه مقبرې ته لاړم او هلته ما سندرې شروع کړلې، کله به مې يو قبر ته سندرې وئيلې او کله بَل قبر ته او داسې به ګرځيدم. بيا زه د يو قبر خوا ته کښيناستم، څه ګورم چې هغه قبر برسيره شو، او ګَس سر رابهر کړو او اوئې وئيل: مړو ته به تر څو پورې سندرې وائې. لاړ شه! خپل فرياد الله پاک ته اوکړه! هغه حَیٌّ وَ قَیُّوم دے، هغه به ستا دُعا قبلوله کړي. د هغه ګَس د دې خبرې سره زه بے هوشه شوم. کله چې په هوش کښې راغلم نو عقل مې په ځائے شوے وو، ما د الله پاک په بارګاه کښې د زړه نه فرياد



www.dawateislami.net

اوکړو، لا فریاد مې کولو چې ستاسو خادم را اورسیدلو.

د دې واقعې بیانولو نه پس هغه بوډا خپل عُود (یعنې د موسیقۍ آله ګِټار) مات کړو او د زړه نه ئې توبه کړه. په دې موقع باندې حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اصلاح مدنې ګل اوفرمائیلو: اے خلقو! دې ګَس د فضول کار په نیت کښې رښتیا اختیار کړل نو الله پاک د ده مراد پوره کړو نو کوم ګَس چې په خپلو ټولو احوالو کښې رښتیا اختیار کړي، خپل نیت صحیح کړي نو په هغه باندې به د الله څومره کرم کیږي؟ ځکه په تاسو ټولو باندې لازم دي چې رښتینے نیت او د باطن پاك والے اختیار کړئ! که دا دواړه خبرې (رښتینے نیت او د باطن صفائي) نه وي نو یو انسان هم د الله پاک قرب نشي حاصلولے. آیا تاسو د الله پاک فرمان نه دے اوریدلے:[1]

وَاِذَاقُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا **مفهوم ترجمه کنز العرفان:** او کله چې خبره کوئ نو عدل کوئ.

(پاره:8، الانعام:152)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دے د رښتیاؤ برکت...!! په خپل نیت کښې د رښتیاؤ ساتلو، د رښتیاؤ وئیلو، د دروغو نه د بچ کیدو په برکت د الله پاک قرب حاصلیږي، د بدو نه نجات حاصلیږي، د توبے توفیق نصیب کیږي او بنده د ټیک کیدو سره اوچتو مقاماتو ته د رسیدو لائق جوړیږي.

ځکه په مونږ ټولو باندې لازم دي چې همیشه رښتیا وایو، د دروغو نه همیشه نفرت کوو.

---

[1]... قلائد الجواهر، صفحه:27 خلاصةً.



www.dawateislami.net

غیبت سے اور تُہمت و چغلی سے دُور رکھ | خُوگر تُو سچ کا دے بنا یا ربِّ مصطفٰے!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د غوثِ پاک عاشقانو! اے قادريانو! مونږ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تعليمات واوريدل، د سلسله عاليه قادريه 3 بنيادي اصول واوريدل: (1) مُجاهده (2) تَوَكُّل (3) صِدق يعني رښتيا وئيل. د نن نه دا نِيَّت اوکړئ! چې دا درې واړه اصول په خپل ژوند کښې نافذ کړو او د حُضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رښتيني مريد د جوړيدو کوشش اوکړو.اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم!

## د بيعت مختصر تعارف، فائدے او فضيلتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! سلسله عاليه قادريه ډيره د برکت سلسله ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په قادريه سلسله کښې بيعت کړے دے. سيدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم په قادريه سلسله کښې بيعت کړے دے او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! باقي پاتې چې خومره هم د طريقت سلسلے دي سلسلهٔ نقشبنديه، سلسلهٔ سهرورديه، سلسلهٔ چشتيه په دې ټولو کښې هم د غوثِ پاک فيضان رسي. د سلسله عاليه قادريه شهنشاه سيدي غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے او دا سلسله. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علِـيُّ الْمُرتضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته او د هغوئي نه وړاندې خوږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رسي، که تاسو تر اوسه پورې د يو پيرِکامل نه بيعت نه وي کړے نو مشوره ده چې په سلسله عاليه قادريه کښې د جامع شرطونو د پير په لاس بيعت اوکړئ. ياد ساتئ! د يو کامل پير



www.dawateislami.net

نه په مرید جوړیدو کښې ډیر برکتونه او فائدے دي، مثلاً د دې په برکت سره د ایمان حفاظت نصیب کیږي ❀ د لمُونځ روژې پابندي نصیب کیږي ❀ د حلالو او د حرامو پیژندل نصیب کیږي ❀ د مسلمان احترام او ایماني جذبه نصیب کیږي ❀ د شیطان نه حفاظت کیږي ❀ په زړه کښې د عبادت شوق او د قرآن د تلاوت جذبه نصیب کیږي ❀ د خراب صحبت نه د بچ کیدو ذهن جوړیږي ❀ د ګناهونو نه توبه نصیب کیږي ❀ د دین او دنیا پریشانۍ لرې کیږي ❀ د انسان کردار ښه کیږي ❀ د امیر اهلسنت نه د بیعت کولو څه څه فائدے حاصلې شوې، څه څه برکتونه نصیب شول ❀ د امیر اهلسنت د مرید کیدو سره عالمَان جوړ شول ❀ مفتیان جوړ شول ❀ حافظان جوړ شول ❀ په کور کښې دیني ماحول جوړ شو ❀ ګیرې پریښودلے شوې ❀ عمامې په سر کړے شوې ❀ د مدینے محبت نصیب شو ❀ د حج رغبت اوشو ❀ ډیر حاجیان شول ❀ د نعتونو وئیلو ❀ د نعتونو اوریدو شوق پیدا شو ❀ عشقِ رسول نصیب شو ❀ د اعلیٰ حضرت پیژندګلو اوشوه ❀ د غوثِ پاک پیژندګلو اوشوه. که دغه شان مونږه غور اوکړو نو داسې په سوونو مثالونه به وي کوم چې د امیر اهلسنت د مرید د جوړیدو په برکت نصیب شول. الغرض د مرید جوړیدو په برکت انسان په دنیا او آخرت کښې سعادت مند جوړ شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د خپل پیر او مرشد حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره بے حده محبت دے. راځئ! د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د هغوئي د محبت یو څو مثالونه اوګورئ:



www.dawateislami.net

(1) د امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ لیکلے شوے د نعتونو دیوان **وسائلِ بخشش** د هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سره د محبت واضحه دلیل دے په کوم کښې چې هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په شان مبارک کښې ډیر کلامونه او غوثیه نعرے هم لیکلې دي. (2) هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د خاندان، آل او اولاد، د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د مزار، گنبد او منارې، د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ښار الغرض د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سره د تعلق او نسبت لرونکې هر یو څیز سره بے حده محبت کوي. (3) **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** د امیر اهلسنت د تربیت په برکت سره د لوئے یولسم شریف د لوئے شپې په موقع باندې په ملک او بهر ملک کښې د **اجتماعِ غوثیه** اهتمام کولے شي، په کوم کښې چې کله د غوثِ اعظم شان نو کله د غوثِ اعظم سیرت، کله د غوثِ اعظم د خاندان نو کله د غوثِ اعظم د کردار وغیره په موضوعاتو باندې د سنتو نه ډک بیانونه او د غوثِ اعظم د مناجاتو سلسله وي. هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د یولسم شریف په شپه کښې عاشقانِ رسول ته د بغدادي نسخې استعمالولو ترغیب ورکوي.

الله کریم دې مونږ ټولو ته د امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ او د هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په وسیله د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ رښتیني پخه غلامي نصیب کړي او زمونږه خاتمه دې په ایمان باندې اوکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د الله په لار کښې

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د عاشقان رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي فيضان غوث او خواجه دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تعليماتو عام کولو او په دې باندې د عمل کولو په جذبه راپارولو کښې مصروف دے. دعوتِ اسلامي د عشق رسول او عشق صحابه او اهلِ بيت او عشقِ اولياء ډک ډک جامونه ورکوي. د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د خپل روحاني تعلق مضبوطولو، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو او عشقِ اوليائے کرامو محبت په زړه کښې د زياتولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن اونيسئ او د معاشرے د اصلاح د جذبے سره په 12 ديني کارونو کښې عملي طور حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: **يوه ورځ د الله په لار کښې**. مخکښې به دې ديني کار ته **يومِ تعطيل اعتکاف** وئيلے کيدو، اوس دې ديني کار ته **يوه ورځ د الله په لار کښې** وئيلے شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ **دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول** کلو ته هم ځي او د نيکئ دعوت عام کوي ❁ د جُمعې يا اتوار په ورځ اسلامي ورونه داسې علاقو او کلو ته ځي چرته چې د 12 ديني کارونو د شروع کولو يا د نور مضبوطولو حاجت وي ❁ هلته په جمات کښې قيام کولے شي ❁ د ټاکلے شوي شيډول مطابق د يو لمُونځ نه پس د جمات نه د بهر وتلو سره په نزدې کورونو او دکانونو کښې د نيکئ دعوت ورکولے شي، عاشقانِ رسول ته لاس په لاس جمات ته د راتللو ترغيب ورکولے شي مثلاً ❁ راځئ! تاسو هم زمونږ سره جمات ته لاړ شئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ❁ علم دين به زده کړئ، د نيکئ دعوت ورکولو



www.dawateislami.net

والا هم سعادت مند دي چې ❀ د نیکۍ د دعوت ورکولو ثواب به نصیب کیږي ❀ د الله په لار کښې به د وتلو سعادت نصیب کیږي ❀ د **حدیثِ پاک** خلاصه ده: په کوم قدم باندې چې د الله په لار کښې دوړه پریوځي، هغې ته به د دوزخ اور نه ورنزدې کیږي[1] ❀ کوم کَس چې د الله پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو ورونو خوا له د ښار اړخونو ته لاړ شي، په **حدیثِ پاک** کښې د هغه د پاره د جنت زیرے راغلے دے.[2]

## د دیني ماحول په برکت ما د ګناهونو عادتونه پریښودل

د پتوکي (ضلع قصور، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: زه د بد صحبت ښکار ووم او د دې په وجه په ګناهونو کښې اخته ووم. زما بخت څه داسې رابیدار شو چې یوه ورځ یو اسلامي ورور (کوم چې د لرې نه زمونږ کلي ته یوه ورځ د الله په لار کښې راغلے وو)، هغه ما ته جمات ته د راتللو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې ما د هغه د نیکۍ دعوت قبول کړو او جمات ته د یوے ورځې د نفل عبادت د پاره حاضر شوم، د دې په برکت زما د زړه سکون نصیب شو. د تللو په وخت هغه اسلامي ورور ما ته په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت هم راکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم نصیب شو، د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول ښه ښه اخلاق چې مې اولیدل نو زه هم د دعوتِ اسلامي شوم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې ښکلي دیني ماحول په برکت سره ما د ګناهونو عادتونه پریښودل او د دې سره سره زما ټوله

---

[1]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حدیث:16356 خلاصةً.

[2]... معجم اوسط، جلد:1، صفحه:472، حدیث:1743.



www.dawateislami.net

کورنۍ هم د امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په ذریعه په قادري عطّاري سلسله کښې د بیعت کولو سره د نیکو لارو مسافره جوړه شوله.[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## سپیشل پرسن موبائل ایپلي کیشن

اے عاشقانِ رَسُول! نن سبا د ټیکنالوجۍ دور دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم د علم دین د عام کولو کوشش کوي. په دې حوالے سره د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې یو موبائل ایپلي کیشن دے: سپیشل پرسن (***Special Person***). په دې ایپلي کیشن کښې د نابینا کسانو د پاره د زده کولو ډیر خیزونه دي، مثلاً د آډیو لائبریرۍ آپشن هم دے، د کڼو او ګونګیانو د پاره د حج او عمرې، لمُونځ، د اوداسه او غسل طریقه د اشارو په ژبه کښې شامله کړے شوې ده، د اشارو د ژبې زده کولو د پاره ***Sign Language Course*** هم موجود دے. تاسو هم دا ایپلي کیشن انسټال کړئ او که ستاسو په پیژندګلو، خپلوانو وغیره کښې څوک سپیشل پرسن (یعنې ګونګے کوڼ) اسلامي ورور وي نو هغه ته هم دا ایپلي کیشن اورسوئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د

[1]... یومِ تعطیلِ اعتکاف، صفحه:33.



www.dawateislami.net

ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینه تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

**د رسول الله** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین: (1):** دوه رکعته د مسواک سره ادا کول بغیر د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي.[2] **(2)** د مسواک استعمال د ځان د پاره لازم کړئ ځکه چې دا د خُلے د صفائي او د الله پاک د رضا وجه ده.[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ❀ حُضور نبـي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هره شپه مسواک کولو، هر ځل د اوده کیدلو په وخت هم او د بیداریدلو په وخت هم ❀ بغیر د ښه نیت نه د مسواک کولو سره خو به طِبي فائدے خو حاصلې شي خو ثواب به نه میلاویږي، مثلاً که د اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نیتونه اوکړئ: د الله پاک د رضا، د سُنَّت ادا

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343.
[2]... اَلتَّرغِیۡب وَالتَّرہِیۡب، کتاب: الطهارة، الترغیب فی السواک، صفحه:86، حدیث:18.
[3]... مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:438، حدیث:5869.



www.dawateislami.net

کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلے پاك کولو په غرض مسواک کووم ❀ مشائخِ کرام فرمائي: کوم کَس چې د مسواک عادت لري په ځنکدن کښې به ورته کلمه وئیل نصیب کیږي ❀ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې په مسواک کښې 10 خوبیانې دي: خُله صفا کوي، اورئ مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لرې کوي، د خُلے سخا بوئ ختموي، د سُنَّت موافق دے، د مسواک کولو سره فرښتې خوشحالیږي، د مسواک کولو سره رَبّ رضا کیږي، مسواک نیکئ زیاتوي او معده صحیح کوي ❀ مسواک په ښي لاس کښې داسې واخلئ چې قچئ [یعني وړوکې] ګوته د دې نه لاندې او د مینځ درې ګوتې بره او غټه ګوته په سر وي ❀ مسواک چې کله د استعمال قابل نه وي نو غورځوئ ئې مه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، په احتیاط سره ئې په یو ځائے کښې کیږدئ یا ئې خخ کړئ یا ئې د کانړي وغیره وزن سره اوتړئ او سمندر (یا سیند وغیره) کښې ئې ډوب کړئ.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدینه** **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حصه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

---

[1] ...550 سنتیں اور آداب، صفحه:5047.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو[1]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:671670 ملتقطًا.



www.dawateislami.net